# ځورونه

## هیڅوک نه "غواړي" او نه دي مستحق چې وډارول شي، وځورول شي یا په جنسي ډول وځورول شي.

- حتی که نور خلک دا کني چې تاسو مختلف یاست.
- نه له دې امله چې تاسو ښځه جامې اغوندئ.
- حتی په دې صورت کې هم نه چې که تاسو مخکې د چا سره د دروغو عاشقانه چلند (فلرټ) یا ډیټنګ کړی وي.
- حتی که تاسو د ځورونکي سره مخ نشئ.
- حتی په دې صورت کې هم نه چې که تاسو د نور چا سره "ملګري" یاست.

## که دا تاسو سره یا بل چا سره پېښ شي نو راپور یې کړئ!

- که دا دوام ولري، نو خبر ورکول جاري وساتئ.
- هر ډول یادښتونه، عکسونه، متنونه، بریښنالیکونه، او داسې نور محفوظ کړئ. دا توکي یو باوري بالغ ته ورکړئ.
- د غبرګون ښودلو خوندي، مناسبې طریقې وکاروئ
- د خپلو والدینو او/یا په ښوونځي کې د باوري لویانو لکه ښوونکي، روزونکي یا مشاور سره خبري وکړئ

## څه اقدام به وشي که چېرې یو کس بل کس وډاروي، وځوروي یا یې په جنسي توګه وځوروي؟

- ټول شکایتونه به ژر تر ژره او په بشپړ ډول څېړل کېږي.
- مناسب انضباطي اقدامات به ترسره شي او ممکن له ښوونځي څخه ایستل یې کې هم شامل وي.
- په قصدي ډول د غلط شکایت ثبت کول به د مناسب انضباطي اقدام لامل شي، چې پکې د غلط تور لګولو زده کوونکي د ښوونځي څخه ایستل هم شامل دي.

## که تاسو ډارولو والا یا ځورونکي یاست، نو څنګه کولی شئ چې بس یې کړئ:

- ځان پوه کړئ چې ډارول، ځورونه یا جنسي ځورونه په څه معنی ده.
- د نورو سره د خواخوږۍ تمرین وکړئ. شیان د بل شخص له لید لوري څخه وګورئ.
- له هغو خلکو دلو څخه ځان لیرې کړئ چې منفي (غلط) دي او/یا د نورو سره منفي (غلط) چلند کوي.
- د څه کولو نه مخکې فکر وکړئ.
- که تاسو د قوي احساساتو سمبالولو کې ستونزه لرئ، نو د هغه چا سره خبرې وکړئ څوک چې ستاسو مرسته کولی شي.
- د خپلو کړنو مسوولیت په غاړه واخلئ.

**د جرمونو او ځورونې په اړه پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ:**
Safety Services, 316-973-2260

**د جنسي ځورونې په اړه پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ:**
Human Resources—Title IX Office, 316-973-4616

د ویچیټا عامه ښوونځي (Wichita Public Schools) ژمن دي چې یو داسې چاپېریال یقیني کړي چې له تبعیض څخه ازاد وي او داسې یو وضعیت رامنځته کړي چې په هغې کې ټول کارکوونکي او زده کوونکي وکولی شي په فعالیتونو کې برخه واخلي، له نورو سره مرسته وکړي او د خپل بشپړ استعداد سره سم پوره وده وکړي. په Wichita Public Schools (ویچیټا عامه ښوونځو) کې به ځورونې او توپیري چلند ته هیڅکله اجازه ورنه کړل شي او نه به یې معافي وکړل شي.
د Wichita Public Schools (ویچیټا عامه ښوونځي) کله هم د نژاد، رنګ، ملي اصلیت، دین، جنسیت، جنسي هویت، جنسي تمایل، معلولیت، عمر، د پخواني پوځي وضعیت یا د خوندي کړل شویو نورو قانوني ډلبندیو پر اساس په خپلو برنامو او فعالیتونو کې توپیري چلند نه کوي.

د Wichita Public Schools (ویچیټا عامه ښوونځیو) ټول کارکوونکي مسؤلیت لري چې د دې بیانیې ملاتړ وکړي.

لاندې ذکر شوي اشخاص د دې لپاره ټاکل شوي دي چې د غیر تبعیضي بیانیې په اړه تفتیشونه اداره کړي:

Section 504 د بالغانو او Title IX همغږي کوونکې
د بالغانو او زده کوونکو همغږي کوونکی
903 South Edgemoor, Wichita, KS 67218,
(316) 973-4420

Section 504 د زده کوونکو همغږي کوونکی
903 South Edgemoor, Wichita, KS 67218,
(316) 973-4475

WICHITA PUBLIC SCHOOLS®

# ډارول، ځورونه او جنسي ځورونه

## له 6 تر 12 ټولګي زده کوونکو لپاره معلومات

هر زده کوونکی د راتلونکي وخت لپاره چمتو دی

## ډارول، ځورول، او جنسي ځورول څه دي؟

## د ډارولو، ځورولو او جنسي ځورولو ځينې مثالونه څه دي؟

**ډارول...**

- دا يو قصدي چلند دی چې د زيان رسولو يا اضطراب لامل کېږي
- سخت، دوامداره يا پراخې سره خپرېدونکی چلند دی چې ناوړه ګټه اخيستونکی، ډارونکی يا ګواښونکی چاپېريال رامينځته کوي.
- دا په داسې اړيکه کې پېښېږي چېرې چې د ځواک نااندولي شتون لري.
- دا يو ځل يا څو ځله پېښ کېدی شي

**ډارولو کې دا موارد شامل کېدای شي:**

- وهل، په لګته وهل، ټېله ورکول، پر چا توکانې توکل
- غلط نوم ويل
- تمسخر کول او/يا ملنډې کول
- د افواهاتو ليکل يا يې خپرول
- په قصدي ډول له يوې ډلې يا فعاليت څخه يو څوک ايستل

**ځورونه...**

- دا لفظي يا فزيکي چلند دی چې د بل کس تحقير کوي يا د بل کس يا د کسانو ډلې په وړاندې د دوی د نژاد، رنګ، مذهب، جنسيتي هويت، جنسي تمايل، ملي اصل، عمر يا معلوليت پراساس دښمني ښيي
- دا په ښوونځي کې ويرونکی، دښمنانه يا تيری کوونکی چاپېريال رامينځته کوي
- په غير معقول ډول د يو فرد ښوونځي کارکردګی يا تعليمي فرصتونو کې مداخله کوي

**ځورونه کې لاندې موارد شامل کېدی شي:**

- د نفرت نښې رسمول يا يې اغوستل
- ګواښونکي تليفون زنګونه وهل
- د نفرت برېښناليک ليکل او/يا يې خپرول
- د مذهبي نښو تخريبول
- هغه سپکاوي چې د نسل، رنګ، مذهب، جنسي پېژندنې، جنسي تمايل، ملي اصل، عمر يا معلوليت پورې اړه لري
- ډلې جوړول يا د يوې ډلې په اړه د تعصب او تبعيض نظر رامنځته کول
- د فزيکي يا رواني معلوليت لرونکو خلکو سره ملنډې کول يا يې تمسځر کول
- هغه توکې چې خلک يا ډلې په نښانه کوي

**جنسي ځورونه...**

- دا نه غوښتل شوی او ناخوښ جنسي چلند دی چې د يو فرد د زده کړې ترلاسه کولو حق يا د ښوونځي په فعاليتونو کې د ګډون حق کې مداخله کوي
- دا کېدای شي د جنسي طبيعت لرونکو کلماتو يا چلندونو څخه رامنځته شي چې يو فرد ته د هغه/هغې د جنسيت له امله تيری، توهين، سپکاوی، ويرول يا ګواښول کوي
- دا ممکن نښانه شوي کس ته د نا ارامی، بې عزتی يا ګواښ احساس ورکړي
- دا يو ځل يا څو ځله پېښ کېدی شي

**جنسي ځورونه کې دا موارد شامل کېدای شي:**

- لمس کول، نوکاره لګول، سکونډل يا د بدن برخې نيول
- جنسي فکر رامنځته کوونکې يا جنسي اشارې، ليدونه، توکې، لفظي تبصرې کول او/يا غږونه کول
- د يو کس د جنسي فعاليت يا جنسي تمايل په اړه ناغوښتل شوې او ناخوښه پوښتنې پوښتل
- د يو شخص د جنسي فعاليت په اړه د افواهو خپرول يا د يو شخص د جنسي تمايل يا جنسي فعاليت په اړه عامه بيانونه رامنځته کول
- جنسي وړانديز کوونکي انځورونه ښودل
- جنسي طبيعت لرونکي ناغوښتل شوي او ناخوښه پيغامونه ليږل يا رسول

مجازي/د تکنالوژي له لارې ډارولو کې ډېر هغه ورته چلندونه شامل دي چې د هر ډول برېښنايي ارتباطي وسيلو له لارې ترسره کېږي، چې پکې برېښناليک، فوري پيغام، متن پيغامونه، بلاګونه، موبايل تليفون، آنلاين لوبې او او ويبپاڼې شاملې دي خو يوازې په دې پورې محدود نه دي. لفظونه، انځورونه او تقريبًا هر هغه څه چې تاسو يې په آنلاين بڼه خپروئ، د هر چا له لوري ليدل کېدی شي حتی که له منځه يوړل شي. هيڅ شی په بشپړه توګه شخصي نه دی.

## تاسو د ډارولو، ځورولو يا جنسي ځورولو د مخنيوي کولو او بندولو ځواک لرئ.

- د ستونزې برخه مه جوړېږئ.
- غوره کړئ چې په ستونزه کې برخه وانښلئ او تماشا يې هم مه کوئ؛ لرې لاړ شئ او خپل ملګري له ځان سره بوځئ.
- د ناوړه الفاظو يا عملونو پر وړاندې غږ پورته کړئ
- د هغه چا ملاتړ وکړئ څوک چې ډارول کېږي يا ځورول کېږي.
- هغه کس ته ووایاست چې تاسو به د هغه/هغې سره لاړ شئ، چې د پېښې راپور ورکړي.
- د پېښې راپور پخپله ورکړئ.

SPEAK UP

د دې لپاره چې يو **بې نومه** لاربښوونه وړاندې کړئ، "p3 tips" اپليکيشن ډاونلوډ کړئ يا له usd259.org/speakup څخه مراجعه وکړئ

SEE SOMETHING SAY SOMETHING

## څه بايد وشي که څوک ادعا وکړي چې بس ټوکې يې کولې؟

که دغه عمل يو څوک په فزيکي يا احساساتي ډول زيانمن کوي، نو دا سم نه دی او دا ټوکه نه ده. هر څوک ټوکې په مختلفو ډولونو سره ګڼي، او خلک د مختلفو شيانو په اړه حساس وي. يوازې دا چې يو څوک ووايي چې هغه يا هغې دا معنی نه درلوده، دا معنی نه لري چې دا پېښه نه ده شوې يا يې چا ته زيان نه دی رسولی.